HUMAN RIGHTS WATCH

# ” لکه چې دوزخ کې ژوند کوو“

## په کاله کې د ماشومانو او لويانو پر وړاندې د پوليسو تيري

# لن ډيز

له هغه راهیسي چې پروسږکال دوی د کاله کیمپ له منځه ویوړ، د ملاستي او خوراک لپاره هیڅ ځای نه دی پاتې. داسې ده لکه چې دوزخ کې ژوند کوو.

**—یاکوب ایس، ۲۹ کلن ایتوپیایي سړی، کاله، د ۲۰۱۷ کال د جون ۳۰مه**

هغه ښځې او سړیان چې لومړی د سوریې نه راتلل، اوس له اریتره او یا ګنو نورو هیوادونو نه راځي، او هغه څوک چې د خپلې آزادۍ لپاره مبارزه کوي په اروپا او بیا په فرانسه کې یې باید هرکلی وشي.

**—ولسمشر ایمانویل مکرون، د ایتالیا تریست ښار، ۲۰۱۷ کال د جولایي ۱۳مه**

۹ میاشتې وروسته له هغې چې د فرانسې چارواکو د کاله په ساحل کې د جنګل په نوم د کډوالو لوی کیمپ وتاړه، ۴۰۰ تر ۵۰۰ پناه غوښتونکي او نور کډوال د فرانسې د شمالي ښار په داخل او چاپیریال کې پر سړکونو او ځنګلي سیمو کې ژوند کوي.

د کاله او دانکرک په داخل او شاوخوا سیمو کې د څه د پاسه ۶۰ پناه غوښتونکو او کډوالو او لسګونه مرستندویه کارکونکو سره د مرکو پر بنسټ تیار شوی دا راپور دا شواهد وړاندې کوي چې د پولیسو له خوا د پناه غوښتونکو او کډوالو ځورول، د بشري مرستو د بهیر ګډوډول، او د مرستندویه کارکونکو ربړول تر یو ځایه ددې لپاره کیدل چې د کډوالو شمیره راټیټ کړي.

د بشري حقونو د څار اداري موندني ښيي چې د کاله پولیس او په تیره بیا هغه پولیس چې د تاوتریخوالي پر وړاندې دنده ترسره کوي په ورځني ډول د ماشومانو او لویانو کډوالو پر وړاندې په داسې حال کې د مرچو سپرې استعمالوي چې یا خو وده وي او یا داسې حالت کې وي چې هیڅ ډول ګواښ یې نه وي رامنځته کړی. دوی پر بسترو، کمپلو او جامو سپرې پاشوي او ځیني وخت د کډوالو په خوراک او اوبو د مرچو سپرې پاشوي. پولیسو د بشري مرستو د ویش بهیر هم ګډوډ کړی دی. د پولیسو بد چلند د ماشومانو د ملاتړ خدماتو ته د لاسرسي او د پناه غوښتنې لپاره د کډوالو پر توان او اراده منفي اغیز ښندلی دی.

دغه پولیس د کاله په داخل او شاو خوا کې د زور په کارولو سره له هغه قانون څخه سرغړونه کوي چې له سپکاوي ډک غیر انساني چلند او جزا او خوراک او څښاک ته د کډوالو د لاسرسي پر ضد د غیر قانوني لاسوهنې د مخنیوي لپاره جوړ شوی دی. نړیوال معیارونه سپارښتنه کوي چې پولیس یوازې هغه وخت زور کارولی شي چې بله چاره نه وي خو هغه هم باید په هغو حالاتو پورې محدود وي زور یې پر وړاندې کارول کیږي او د یوه معقول قانون د پلي کولو په موخه ترسره شي.

د پناه غوښتونکو او کډوالو پر وړاندې د پولیسو د زورزیاتي تړاو د پراخه خپرو شویو راپورونو پر وړاندې چارواکو بې اعتنایي وکړه. د کاله د ښار مشر مرستیال وینسینټ بریټن Vincent Berton هغه راپورونه په کلکه وغندل چې ګیني پولیسو به د توپیر او تناسب پرته د هر کډوال پر وړاندې د مرچو سپرې او یا د ځواک کوم بل ډول کارولی وي. هغه د بشري حقونو څار اداري ته وویل چې: "دا تورونه او فردي ادعاوې دي چې پر حقیقت ولاړې نه دي،"

د ۲۰۱۷ کال د مارچ په میاشت کې محلي چارواکو د بشري مرستو د ډلو له خوا کډوالو او پناه غوښتونکو ته د خوراکي توکو، اوبو، کمپلو او جامو له ویشلو مخنیوی وکړ. د مارچ په ۲۲مه یوې محکمې دغه حکمونه تعلیق کړل او غیر انساني او له سپکاوي څخه ډک یې وبلل. د فرانسې د حقونو مدافع هم په دې چلند او د چارواکو له خوا په نورو پورته شویو ګامونو نیوکه وکړه چې په کاله کې یې د پناه غوښتونکو او کډوالو لپاره د ژوندون غیر انساني شرایطو ته لاره هواره کړې ده.

د جون تر پایه هم چارواکو د ورځې د دوه ساعتونو لپاره د کډوالو د پخواني کیمپ په یوه صنعتي سیمه کې د بشري مرستو د ویش اجازه ورکوله. پر دې سربیره یوه محلي کشیش هم د کلیسا په څمکه کې د غرمې ډوډۍ د ویشلو اجازه ورکوله. خو پولیسو په منظم ډول د بشري مرستو د ویش پروسه له ګډوډۍ سره مخامخ کړې ده. مرستندویه کارکونکو هغه پېښه بیان کړه چې ژاندارمري ځواکونو چې ټوپکونه یې په لاس کې وو سیمه محاصره کړه او ګڼې نورې داسې پېښې یې بیان کړې چې د تاوتریخوالي ضد پولیسو په زوره مرستندویه کارکونکو ته د کډوالو د لاسرسي مخه نیوله او هغه خوراکي توکي یې د مرستندویه کارکوونکو واخیستل چې کډوالو ته یې د ویشلو هڅه کوله.

مرستندویه کارکونکي د فرانسې قانون سره سم حق لري چې د پولیسو ددې چلند عکسونه واخلي او یا یې ویډیو ضبط کړي. خو د کارکونکو د وینا له مخې پولیسو د لنډې مودې لپاره د دوی ټلیفونونه قید کړل او د اجازې پرته یې محتویات تر کتلو وروسته حذف کړل.

مرستندویه کارکونکو دا هم وویل چې پولیس هره ورځ د دوی اسناد معاینه کوي او کله کله یې د څو ساعتونو په منځ کې دوه یا ډیر ځلې ګوري. د شناختی کارت کتل په فرانسه کې قانوني دي خو دلته دا کار پولیسو ته د زیاتي موقع ورکوي. په کاله کې د مرستندویه کارکونکو د شناختي کارډ معاینه کولو د بشري مرستو ویش ځنډنی کړی دی. دوی مرستندویه کارکونکي له دې هم منع کړي دي چې د ویش د بهیر د بندولو وروسته کډوالو سره د پولیسو چلند مشاهده کړي.

د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون ژمنه وکړه چې د کډوالو او پناه غوښتونکو په وړاندې به یو انساني چلند غوره کړي. نوموړي د جولای پر ۱۲ داسې نوي ګامونه اعلان کړل چې پناه غوښتنې بهیر ته د لاسرسي د ښه کولو تر څنګ پناه غوښتونکو او بې وارثه ماشومانو ته د کور برابرولو آسانتیا او نور ملاتړ برابروي. خو هغه چلند چې په کاله کې یې کډوال او پناه غوښتونکي اوس تجربه کوي له دې تشریفاتي ګامونو سره یو مخ توپیر لري.

ددې لپاره چې دا ژمنې او د فرانسې نړیوال مسئولیتونه یې مراعت کړي وي، محلي او ملي چارواکي باید د ځواک د کارولو په تړاو ژر تر ژره پولیس پر نړیوالو معیارونو عمل ته چمتو کړي او له هغه چلند څخه لاس واخلي چې د بشري مرستو د ویش په بهیر کې لاسوهنې، چارواکو د سوء استفادې او د زورزیاتي د نورو ډولونو په برخه کې قانوني اقداماتو ته اړتیا لري.

د کورنیو چارو وزارت باید هغه خنډونه لرې کړي چې د کډوالو د ملاتړ مخه نیسي. چې په کاله کې د پناه غوښتنې یو دفتر جوړول او یا په موجوده دفتر کې د هغه چا لپاره د غوښتنلیکونو د اخیستلو اسانتیا چمتو کول په کې شامل دي چې د غوښتنلیک د ورکولو په لټه کې دي. همداراز، باید له اړونده ادارو او بشري ډلو سره یو ځای د هغو خلکو لپاره هستوګنه برابره کړي چې د پناه اخیستلو غوښتونلیک یې ورکړی دی. هغه نا ثبت شویو کډوالو ته هم بیړنۍ هستوګنه چمتو کړي چې په کاله کې پناه ځای نه لري.

وروستۍ خبره دا چې محلي او ملي چارواکي باید ډاډ ورکړي چې بې وارثه کډوال ماشومان د پناه اخیستلو تر څنګ تر څنګ د ماشومانو د ملاتړ داسې خدماتو ته لاسرسی لري د کافي ظرفیت او لازمو کارکونکو څخه برخمن دي.

# سپارښتنې

## د فرانسې حکومت ته

- ښاروالي او د نورو ادارو چارواکي او د کورنیو چارو وزارت باید پرته له ځنډه د تاوتریخوالي ضد او نورو پولیسو ته لارښونه وکړي چې پر هغو کډوالو د مرچو اسپرې او یا کوم بل ډول ځواک ونه کاروي چې په خوب او یا کوم بل داسې حالت کې وي چې د ځواک کارول ورته مناسب نه وي.
- د کاله د ښاروالۍ چارواکي باید پرته له ځنډ څخه د جون د محکمې د هغه حکم پیروي وکړي چې ښاروالۍ ته یې د اوبو د ویش نقطو، تشنابونو او حمامونو د جوړولو د لارښونې تر څنګ د پناه غوښتونکو او کډوالو د حقونو د ساتلو لپاره د لا زیاتو اقداماتو سپارښتنه کړې ده.
- د کورنیو چارو وزارت باید په کاله کې یو داسې دفتر جوړ کړي چې له لارې یې پناه غوښتونکي خپل غوښتنلیکونه وړاندې کړي او یا داسې ټرانسپورتي آسانتیاوې برابرې کړي چې د فرانسې په یوه بله برخه کې موجوده دفترونو ته خپل غوښتنلیکونه وسپاري.
- د فرانسې حکومت باید د پناه غوښتونکو د هرکلي په اړه د اروپایي اتحادیې د حکم پر وړاندې خپل مسئولیت پوره کړي او هر څومره ژر چې ممکنه وي د هغو پناه غوښتونکو لپاره د هستوګنې امکانات برابر کړي چې د غوښتنلیک د پروسس پر مهال د خپل ژوند د تیرولو کافي امکانات نه لري، او دا کار د هغې شیبې راهیسې پیل کړي چې نوی راغلی کډوال د رارسیدو په پیل کې د پناه غوښتنې اراده په ډاګه کوي.
- محلي او ملي چارواکي باید ډاډ ورکړي چې لاوارثه ماشومان پرته له ځنډه تشخیص شوي او په فرانسه کې د پناه غوښتنې په تړاو له خپلو حقونو ښه خبر دي او د اړتیا وړ حقوقي ملاتړ څخه برخمن دي څو خپل غوښتنلیک وړاندې کړي، او همداراز باید ډاډ ورکړي چې د ماشومانو د ساتنې داسې پناه ځای ته لاسرسی لري چې د ظرفیت او کارکونکو له پلوه بشپړ دي.
- لکه چې د اروپایی اتحادیې د بنسټیزو حقونو اداره یې سپارښتنه کوي، پولیس باید د اسنادو د هر یوې ارزونې لپاره یو لیکلی ریکارډ او یا د کډوالو د نیولو فورمه چمتو کړي څو په مستند ډول د کډوالو نیول او ښه حساب ورکونه رامنځته شي. د کډوالو د نیولو فورمه باید لږ تر لږه د هغه سړي نوم او عمر، د نیولو حقوقي دلایل، نتایج تر څنګ د هغه پولیس افسر د نوم او جزوتام په اړه معلومات ورکړي چې د کډوال نیول یې ترسره کړي دي.